شل کاله پس بیا هم

# ستا په نوم

لایق زاده لایق

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کتاب پېژندنه


د کتاب نوم ـــــ ستا په نوم

لیکوال ـــــ لایق زاده لایق

کمپوزنګ ـــــ ارشاد خان پښتو اکېډمي پېښور

وړومبې چاپ ـــــ ۱۹۹۳ء

دویم چاپ ـــــ ۲۰۱۲ء

شمېر ـــــ ۵۰۰

بیعه ـــــ ۱۵۰ کالداري

چاپ ځائې ـــــ ضیاء پرنټرز پېښور

د ملاوېدو درک

- یونیورسټي بک ایجنسي خېبربازار پېښور ښار
- د پښتو اکېډیمۍ د کتابونو دُکان پېښور یونیورسټي او ددې ترڅنګه د کتابونو هر لوئې دوکان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ترون

د خپلي ماشومې لور ,, زرقيش ،، په نوم چې زۀ ئې د ژوند د خوږو سره اشنا کړم او د خپلي لېونئ مينې په نوم چې ماته ئې د اظهار چل ايزده کړو.

لايق زاده لايق

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېژندګلو

- نوم :- لایق زاده لایق
- کلی :- مدین ، ضلع سوات
- د پیدا کېدو نېټه :- ۱۵ جنوري ۱۹۵۹ء
- زده کړه :-

لسم :- د هائي سکول مدین نه په کال ۱۹۷۵ء کښې

څوارلسم :- د جهانزیب کالج سوات نه په کال ۱۹۸۰ء کښې

شپاړسم :- په سیاسیاتو کښې د کراچۍ یونیورستۍ نه په کال ۱۹۸۲ء کښې.

شپاړسم :- په پښتو کښې د پېښور یونیورستۍ نه په کال ۱۹۸۹ء کښې.

پښتو انرز :- د پېښور بورډ نه او ایل ایل بي د کراچۍ یونیورستۍ نه.

- د خوښې استاذان د سکول په زمانه کښې :-

ښاغلے میاں صاحب جان ، ښاغلے امیرزاده میاں ، خدائے بخښلے شاه زمین میاں ، ښاغلے سراج الدین او خدائے بخښلے محمد علي جان.



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په جهانزېب کالج کښې :-

پروفېسرشيرافګن،پروفېسرنورمحمداوپروفېسرقادرخان

- په کراچۍ يونيورسټۍ کښې :-

ډاکټر منظور الدين احمد ، ډاکټر عادل حسين ، ډاکټر ارشد کريم او ميډم تنوير۔

- د شاعرۍ ابتداء :- ۱۹۷۱ء نه
- د خوښې شاعر :-

ښاغلے امين الله خان (چې دآزادنظم ليکلومنفرداندازلري)

- د خوښې نثر ليکونکے :-

ښاغلے ګل افضل خان

- ليکلي کتابونه :-

1. محنت کا پهل چاپ ۱۹۷۵ء
2. ګيلې (غزلونه) // ۱۹۷۹ء
3. ويښ خوبونه (شاعري) // ۱۹۸۲ء
4. صلوعليه وآله (نعتونه) // ۱۹۸۹ء
5. ګل بانو ظفرخان (اولسي قيصه)// ۱۹۹۰ء
6. ستا په نوم، داستاسو په لاسو کښې ۱۹۹۳ء

- ناچاپ کتابونه :

1. ماته آئينه افساني



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. مشکنې شعري ټولګه
3. راځئ چې بیا اوخاندو د منتخب ټوقو ټولګه
4. لېونتوب شاعري

- لیدلي ځایونه د خپل هېواد ټول ښارونه اوپه خارجي هېوادونوکښې بنکاک،سنګاپوراواندونیشیا
- دا وخت د ریډیو پاکستان پېښور سینئر پروډیوسر
- خوښه مشغله :- په قول د رحمان بابا

زۀ عاشق یم سروکار مې د ے له عشقه
نـۀ خلیـل نـۀ داؤدز ے یـم نـۀ مومنـد

لایق زاده لایق
۳۱دسمبر ۱۹۹۳

Pukhto.Net پښتو



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستا په نوم

چې کله د حالاتو جبر او د وختونو زور زياتي زما زړلي فکر او ژوبل احساس ته د اظهار چل زده کړو نو زۀ ئې شاعر کړم. ما چې بيا هر څۀ اوليکل ستا د نوم نه مې زار کړل. زما او ستا تر مېنځه که هر څو فاصلې اوږدې دي خو د جذبو تړون د وخت فاصلې کله هم نۀ دي منلي. زۀ د خپل زړۀ په هره درزا کښې ستا احساس ژوندے ساتم.

زما هم ارمانونه شته څۀ بُت خو نۀ يم انسان يم. زړۀ لرم او داسې زړۀ چې زما نه ډېر ډېر څۀ غواړي. خو ما په دغه غوښتونو کښې ستا ارمان په ډېر ناز ساتلے دے ډېر په ناز. ځکه چې دا ارمان مقدس دے او ولې نه چې ماته ئې د ژوند تېرولو چل زده کړے دے زۀ ئې دخيال د ښائستونو سره اشنا کړے يم.

دا هم ستا له مخه زما خيال سندريز دے زما فکر الوت کولے شي. کله تا پورې او کله د مکان نه تر لامکانه پورې. که تۀ نۀ وے ستا ارمان نۀ وے نو زۀ به ډېر نيمګړے



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووم ـ زما سوچ به د ځان پورې محدود وو ،خو شکر دے نن زۀ محدود نۀ يم ـ زما دننه جهان ډېر لوئے دے ـ

زۀ که هر څۀ ليکم په دې خيال ئې نۀ ليکم چې زما نوم دې په لويو ليکوالو کښې شمار شي ـ ماته دې خلق شاعر اووائي نا...باکل نه ـ زۀ صرف دا غواړم چې زما نامه دې هم د مئينانو په لړ کښې شمار شي ـ زما دپاره دا د هر څۀ هر څۀ دي ـ ګني ما هم کولے شوه چې د کتاب په شروع کښې مې د څو محترمو او لوړو ليکوالو مقالې شاملې کړے وے او خپل ځان مې د روايتونو غلام کړے وے ـ خو زۀ داسې نۀ کوم د روايتي انداز نه تېښته کوم او ستا په نوم د خپل اظهار فېصله په هر لوستونکي پرېږدم ـ چې ايا ما د خپلې مينې حق تر کومې ادا کړے دے ـ

په درناوي
لايق زاده لايق
۳۱ دسمبر ۱۹۹۳ء



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستا په نوم ـــــــ دويم چاپ

زما لېونې .... زما خيال دے چې ستا نه به زۀ هير يم ....ځکه چې وختونو ډېر اړخونه بدل کړي دي .او هاغه د ځوانۍ خوبونه ....هاغه لېوني يادونه به تاته اوس يو خوب ښکاري .داسې خوب چې هډو تعبير نۀ لري ....خو تاته پته شته زۀ ....چې اوس هم يوازې کينم نو هاغه لېوني وختونه مې راياد شي ....هاغه زمونږ د کلي خړ پړ کورونه ، هاغه کچه ديوالونه هاغه د خاموشۍ ژبه د زړونو خبرې ....تاته ياد دي چې مونږ به په اخترونو کښې پير بابا له تلو ....زما بابا به ماته وئيل چې داسې نه څۀ حادثه اوشي خو زۀ د حادثو نه بې پروا وومه .ستا مور به تۀ هم منع کولې ....خو ماته ياد دي چې تا به ورته کومې کومې بهانې کولې ....ستا مور ستا په بهانو پوهيده خو تۀ وربانديې ګرانه وې .ځکه به ئې اجازت درکړو ....تاته ياد دي چې يو ځل د پير بابا د سيل ګاډي ډېره درنه جټکه خوړلې وه .هر څوک وارخطا وو ....ستا په سترګو کښې هم اوښکې وې ....او چې ما ستا د ګلابي مخ نه اوښکې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکولې ....نو د کلي زنانه ؤ راته پټ پټ کتل .... هغوي د ځان سره څۀ خبرې هم کولې ....خو .... مونږ دا خبرې نۀ اوريدې .ځکه چې زمونږ د زړونو جذبو خپلې خبرې کولې .او بيا چې تۀ د پير بابا په زيارت کښې ولاړه وې دواړه سترګې دې پټې کړې وې په معصومو شونډو دې څۀ وئيل .... که هر څو زۀ ستا د مخ په تماشه ووم خو دغه دعا مې اوريده ....تا د خدائے پاک نه زۀ غوښتم او چې ما لاس دعا ته پورته کړۀ نو يوه ستا نامه مې خولې ته راغله .دغه ټولې لمحې دغه ټول يادونه زما په ذهن کښې هر وخت چورلکونه خوري.

ماته هاغه ورځ هم ياده ده چې تا يو ورځ زمونږ کره شوملې راوړې وې .او چې زۀ دې اوليدم نو شوملې درنه په زمکه پريوتې ....تۀ اتاله ولاړه وې او د ځان سره دې پټ پټ ژړل .ځکه چې تۀ د خپلې مور نه ويريدې ....خو ....چې زما مور درله دلاسه درکړه نو تۀ په ساه شوې ....بيا تۀ تر ماښامه زمونږ کره وې .هاغه ورځ ....هاغه ټولې لمحې ماته د اختر نه کمې نۀ وې ....زۀ ....چې د تيرو وختونو يوه يوه خبره يادوم نو تۀ باور اوکه نن مې هم زړۀ دردونه شروع کړي ....نن ....ما خلق پيژني او زۀ خلق پيژنم ....د دنيا ښائستونه مې اوليدل د پرې سترګې مې اوليدې خو زما لېونے ....تۀ باور اوکه ....



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما تر اوسه پورې په بل چا سترګې خوږې نشوې....ما نورو سترګو له په زړۀ کښې ځائے ورنکړو.دا غالباً چې زمونږ په هاغه جذبو کښې معصوميت وو صداقت وو.

نن چې زۀ په خپلو ويښتو کښې سپينو ډکو ته ګورم نو دا فکر مې يوسي چې ستا په ويښتو کښې به هم سپين لګيدلي وي....تۀ به هم لکه زما کله کله دا آئينې سره خبرې کوې....تۀ به هم کله کله زما نامه اخلې....تۀ به هم کله کله زما د لاس هاغه خطونه را اخلې کوم چې ما د سياهۍ په غټ قلفم تاته ليکلي وو .تۀ به هم لکه زما دغه ټولې نخښې ښکلوې....ځکه چې....دا هر څۀ زما زړۀ وائي.او لېونۍ تاته پته ده چې زړۀ کله هم دروغ نۀ وائي.که تۀ هر څو زما نشوې خو لکه د پرون نن هم زما ټولې جذبې....زما ټول احساسات ستا په نوم دي....بيخي ستا په نوم....

ستا لېونے
لايق زاده لايق



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ابتداء

په نامه د هغه رب مې ابتداء ده
چې ئې زۀ د محبت سره اشنا کړم
بیا درود په هغه لویه هستۍ وایم
چې ئې ذکر په یاسین او په طٰهٰ کړم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

چې د اشنا کلي اشنا مې وژني
خپله پښتو خپله حیا مې وژني

ما ورته ضد په خپل خلوص نیولے
لکه منصور په دې ګناه مې وژني

چې پښتون سر مې ورته ښکته نۀ شو
حُسن مغل دے خامخا مې وژني

چې مې راځي خولې ته د زړۀ خبره
د لیوني فکر سودا مې وژني

قاتل نظر ویره د چا نۀ کوي
په رڼا ورځ په سپین صبا مې وژني

چې د رقیب ذکر کوي لایقه
دغه اظهار دغه وینا مې وژني



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

شـوګیره یـم پـه خوبونـو پسـې ګـرځم
انتظـار یـم سـحرونو پسـې ګـرځم

زۀ یـو سترے نـاقراره غونـدې خیـال یـم
لکـه شـعر پـه لفظونـو پسـې ګـرځم

پـه زړو لارو روان سـلګو نیـولے
د یـادونو پـه خـاپونو پسـې ګـرځم

د خپـل ځـان لټـون مـې کلـه پوره نۀ کړو
مـودې اوشـوې پـه مخونـو پسـې ګـرځم

د اشـنا لېـونے فکـر راسـره دے
سـرګردانه منزلونـو پسـې ګـرځم

د احسـاس پښـې مـې تنـاکې شـوې لایقـه
لېـونے یـم سـرابونو پسـې ګـرځم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

خلق به څۀ وائي او څۀ نۀ وائي
دومره پوهيږم چې به ښۀ نۀ وائي

سره يُو پوهه د پښتو وطن دے
ټولې خبرې څوک په خوله نۀ وائي

د خوب ليدۀ وو د ځوانۍ وختونه
اوس مې هاغه سندرې زړۀ نۀ وائي

تۀ راته اووايه د چا اومنم
سترګې دې وائي خو لېمۀ نۀ وائي

چې د دستار په قدر نۀ پوهيږي
هغه دې ځان ته پښتانۀ نۀ وائي

ښۀ به رښتيا وائي هغه لائقه
د دار په سر چې څوک ټپه نۀ وائي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

شاته شاته ګورم هر قدم مرمه
لا د انتظار لارې څارم مرمه

حال د خپلې مينې چاته نهٔ وايم
څومره لوئے طوفان زړهٔ کې ساتم مرمه

ستا د ستمونو شمېر پوره نهٔ شو
ګوتې د مودو راسې شمارم مرمه

څومره چې وې خولې دومره خبرې وې
زهٔ چې په زړو لارو راځم مرمه

مينې په ما داسې کانې کړي دي
ځار دې شم له سترګو دم په دم مرمه

ستا خيال مې سينه پورې نيولے دے
زهٔ لايق په زړهٔ غمونه وړم مرمه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

چې ستا د زلفو راپه زړه شي فکر
لوګي لوګي شي سره لمبه شي فکر

د چا په سپين مخ الواني لوپټه
چې رايادېږي نو نغمه شي فکر

ستا د فکرونو نه اوزګار خو نۀ يم
نور به مې څۀ د ژوندانۀ شي فکر

د تورو زلفو په کږو لارو کښې
خدائے خبر څۀ شي کله څۀ شي فکر

چې د خمارو سترګو سوچ مې يوسي
اوره اودۀ نشه شي فکر

په تورو شپو کښې د هجران لايقه
چې لېونے شي نو تپه شي فکر



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

زۀ چې د وخت دار ختمه تا ليدم او که نه
خپلو پردو ټولو ليدمه تا ليدم او که نه

د ځواني مرګ ارمان په قبر تر سحره پورې
زۀ چې په چغو ژړېدمه تا ليدم او که نه

د فراق توره يخه شپه کښې به شوم سهورے سپورے
درته به وړاندې اودرېدمه تا ليدم او که نه

د زړۀ د تل نه راختلے لړونے اسويلے
ستا په کوڅه به تېرېدمه تا ليدم او که نه

فکر مې ستا د شينکي خال نه طوافونه کول
چې په لمبو کښې سوزېدمه تا ليدم او که نه

لکه د سيوري ستا په سيوري پسې غلے غلے
لايقه هر خوا ګرځېدمه تا ليدم او که نه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

راتلـــه پـــه مـــا راغورېـــده ژړېـــده
کـــه صـــبريده نـــۀ صـــبريده ژړېـــده

پـه سـپين رخسـار ئـې ګلډ يـدل رنګونـه
هغـــه چـــې مانـــه زاريـــده ژړېـــده

پښـــتنه پېغلـــه وه پښـــتو نيـــولې
نـــۀ پوهيـــده ښـــۀ پوهيـــده ژړېـــده

خـوا کښـې مـې ناسـته وه فکرونـو وړې
د خپلـــه ځانـــه شـــرميده ژړېـــده

زمـــا د خيـــال زمـــا د ســـوچ لېـــونۍ
پـــه بـــام ولاړه خنديـــده ژړېـــده

زمـــا تصـــوير ئـــې ښـــکلوۀ لايقـــه
د هجـــر اور کښـــې ســـوزيده ژړېـــده



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

خیال نیمګړے پاتې شو تصویر نیمګړے پاتې شو
نوم چې د یار راغے نو تحریر نمیګړے پاتې شو

زۀ بې خوده نۀ یم ساقي راکړه لا په خود یمه
نوم به دې بدنام شي که تقصیر نیمګړے پاتې شو

ما نه اوس تپوس د کوم ثواب د کوم ګناه کوې
خدایه ستا تقدیر ته مې تدبیر نمیګړے پاتې شو

ما چې ورته هره شپه د ژوند شوګیره کړې وه
لاړو نن د هاغه خوب تعبیر نیمګړے پاتې شو

هاغه په سینه کښې د مودو نه لېونے ارمان
ماته په سلګو کښې شو دلګیر نیمګړے پاتې شو

ځکه مې لایقه اوس ارام زړګي ته نۀ راځي
حال مې د زړۀ اووې خو تفسیر نیمګړے پاتې شو



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



O

بیــا پــه زړهٔ مــې راوریــږې څــهٔ خبــره خامخــا ده
بیـا مـې سـترګو کښـې غړیـږې څـهٔ خبـره خامخـا ده

د فراق په توره شپه کښې د بېلتون سکنې ماښام کښې
راتــه ســپورے کیــږې څــهٔ خبــره خامخــا ده

زمـا مینـه پخـوانۍ ده لېوتـوب مـې داسـې نـهٔ وو
نــن چــې دومــره مــې یــادیږې څــهٔ خبــره خامخــا ده

بیامې ګسه سترګه رپي بیامې زړهٔ په واک کښې نهٔ دے
نــن مــې ګلــې نــهٔ هیریــږې څــهٔ خبــره خامخــا ده

دا چې مونږه د یو بل نه په هیڅ حال صبرید ے نهٔ شو
ښــهٔ پــوهیږم ښــهٔ پــوهیږې څــهٔ خبــره خامخــا ده

چــې لایقــه بــې صــبري دې ســبوا کیــږي نــهٔ کمیــږي
دا چــې شــپه او ورځ ژړیــږې څــهٔ خبــره خامخــا ده



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

شور چې ورکښې شرنګ د زولنو نۀ شي
ژوند په داسې چم د لېونونۀ شي

اوښکو مې بهو له غاړې ورکړلې
خدایه چې مې مینه بې پښتو نۀ شي

څو چې هر ارمان لمبه لمبه نۀ کړي
ګرانه بندګي ده په تسبو نۀ شي

بیا چې خپل لوظونه درنه هیر نۀ شي
بیا مې ارمانونه په سلګو نۀ شي

مینه جذبه غواړي لېونتوب غواړي
دا په منتونو په جرګو نۀ شي

حال ورته د زړۀ لایقه اووایه
ژوند په اشارو او کنایو نۀ شي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

سلګۍ سلګۍ دې کړم ارمان دې کړمه
لېونۍ مینې خومره ګران دې کړمه

کړه وړه کرښه د شکو په سر
وخته لاجوړ نۀ ووم چې وران دې کړمه

هېڅ پاتې نۀ شومه ذره ذره شوم
چې کله جان کله جانان دې کړمه

زړۀ مې په دې خبره چوي د غمه
د ځان دې نۀ کړمه د ,,ځان،، دې کړمه

چې غلې غلې مې زړګي ته راغلې
د لېونتوب د کلي خان دې کړمه

زۀ دې لایق د خپلې مینې نۀ کړم
نور دې جهان کړم د جهان دې کړمه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

لاخــو دې زلفــې ســنګار کــړې نــهٔ دي
لالېــوني دې پــه دار کـــړې نـــهٔ دي

يو ستا ارمان دے چې ارمان ئې کړمه
نــور ارمانونــه مــې شــمار کــړي نــهٔ دي

ناصـــحه ســـتا خبـــره مـــنم ولـــې
چــا مئين زړونــه پــه لار کــړي نــهٔ دي

لکــه چــې زهٔ ئــې تــول لمبــه لمبــه کـړم
داسې څوک ،،حسن،، ازار کـړي نــهٔ دي

زړهٔ مــې اوس هــم خــوارهٔ دردونــه کــوي
تــا جــوړې غشــې پــه وار کــړې نـــهٔ دي

لا د نشـــه ســـترګو خمـــار لايقـــه
د زړهٔ زخمونـــه خمـــار کـــړي نـــهٔ دي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ګلـــې چـــې خنـــدل ســـلګو نیـــولې وه
وه غـــزل غـــزل ســـلګو نیـــولې وه

ټولـــه شـــپه ولاړه د کـــوټې پـــه ســـر
ســتوري ئــې شــمارل ســلګو نیــولې وه

مـــا ورتـــه حالونـــه د زړګـــي وئيـــل
دې راتـــه ژړل ســـلګو نیـــولې وه

بیـــا د آئینـــې مخـــې تـــه ناســـته وه
هـــیڅ ئـــې نـــهٔ وئیـــل ســـلګو نیـــولې وه

چـــوړ بـــه ئـــې کورونـــه کـــړل د شـــګونه
بیـــا ئـــې ورانـــول ســـلګو نیـــولې وه

خـــدائے خبـــر لایقـــه څـــهٔ خبـــره وه
مـــا تـــه ئـــې کتـــل ســـلګو نیـــولې وه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

څو که ګلې ستا نۀ شوم د ځان نۀ شوم
ستا د لاسو کړښې شومه وران نۀ شوم

هر څو که د مینې اور ستې کړمه
ستا د تندرین حُسن عنوان نۀ شوم

,,ګل ،، کړمه وختونو خو په دشته کښې
ښکلې شوم په ښکلو باندې ګران نۀ شوم

راغلم دې زړګې ته د مودو نه پس
خيال شومه تړتې شومه ارمان نۀ شوم

اوښکه شومه ستا په رخسار پرېوتم
ښۀ ده چې بل چا وته عيان نۀ شوم

زۀ لايق چې ستا په نام ياد شومه
چا وے چې په تا باندې تاوان نۀ شوم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

اووایـــه وحشـــته ازل چرتـــه دے
ګرانــه زنــدګي شــوه اجــل چرتــه دے

لاره د ژونــدون نــوره ازغنــه شــوه
وایـــه لېوتتوبـــه منـــزل چرتـــه دے

ګلــه ښــکلي ډېــر دي مــا لیــدلي دي
ستا د ښائسته ستړګو بدل چرته دے

دلتــه پتــه هــر لــور دي زولنــې خــورې
دلتـــه زلفـــې چرتـــه اوربـــل چرتـــه دے

ســـتا د لېـــونې او ســـپېلنې حُســـن
بـــې لمانـــه داســـې پاګـــل چرتـــه دے

رنــګ ئــې چــې لایقــه زمــا مینــه شــې
داســې شــعر چرتـــه غــزل چرتـــه دے



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

چې په لوظونو مې اعتبار نۀ راځي
ځکه مئين زړۀ ته قرار نۀ راځي

اخر شو وران د ښائستونو کلي
اوس ليوني په دغه لار نۀ راځي

تۀ د ګلونو تقاضې مۀ کوه
ليونۍ دلته کښې ,,بهار، نۀ راځي

خپله ځواني مې ورته خاورې کړله
نور راله چل د انتظار نۀ راځي

زړۀ ته مې ګوره پرې شماره زخمونه
مونږ له ددې خبرو شمار نۀ راځي

لايقه مينه چې معراج ته رسي
په خوله اقرار راځي انکار نۀ راځي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ګل شومه خو ګل دې د اوربل نهٔ شوم
پاتې نيمه خوا شوم مکمل نهٔ شوم

هر څو که ستي شومه سکارهٔ شومه
ستا د لېونو سترګو کجل نهٔ شوم

نور به لا ددې نه جبر څنګه وي
زهٔ د هرچاخپل شومه ستا ,, خپل ،، نهٔ شوم

ستا هر يو ستم ته په خندا شومه
دا مې حوصله ده چې پاګل نهٔ شوم

ستا د مينې سوال چې مې قبلېږي نه
پوهه په رازونو د ازل نهٔ شوم

ستا سترګې د وخت سره بدلې شوې
زهٔ لايق بدل نهٔ ووم بدل نهٔ شوم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ما په شونډو راوله پېغور مې کړه
شور مې کړه په ټول کلي کښې خور مې کړه

بيا په خوږو سترګو راته اوګوره
,,ګل،، مې کړه ښائست مې کړه ,,سمسور،، مې کړه

,,خيال،، به شم د زړۀ کورته به درشمه
درد مې کړه احساس مې کړه ټکور مې کړه

لا درته که نتې شم حوصله لرم
شابسې لا اور مې کړه سور اور مې کړه

پرېږده چې لمبې په رقيب بلې شي
ناز مې کړه د تورو سترګو تور مې کړه

ياد مې کړه په کلي کښې لايق مې کړه
خپل مې کړه اور بل مې کړه غمخور مې کړه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

نیمه شپه کښې ستا یادونه سپوري سپوري
لکه راشي قیامتونه سپوري سپوري

لېوني به خنګه اوګوري یو بل ته
لور په لور دي نظرونه سپوري سپوري

د ژوندون په هره لاړ راپېسي ګرځي
د حالاتو تندرونه سپوري سپوري

ستا د حسن د کعبې نه چاپېر چورلي
ما ښامونه سحرونه سپوري سپوري

ستا تصویر ترینه جوړېږي دا څهٔ چل دي
مازیګر چې شي رنګونه سپوري سپوري

ما خندا ته چرې نهٔ پرېږدي لایقه
ناتمامه حسرتونه سپوري سپوري



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

بیـا پـه دار خـتلې د ې منصـور د زمـانې
څومره لوې قصور د ې بې قصور د زمانې

مـونږه لېونـو تـه د رواج زولنـې ښـائي
څـومره لویـه تېوقـه ده دسـتور د زمـانې

نـن چې شـو زردار نـو فلسـفي د زمـانې شـو
څـوک چـې تـر پرونـه وو ناسـور د زمـانې

اوس خو د بابـا بچـي د ننـګ خبرې نۀ کـوي
وخت څنګه بدل کړلو رنګ ,,سور،، د زمانې

وي کـه افلاطـون ولـې غـږ کـولې هـیڅ نشـي
څـومره ډېـر مجبـوره وي مجبـور د زمـانې

مـونږه د ,,امیـد،، د کـوره نـۀ اوځـو لایقـه
مـات بـه شـي اخـر چـرې غـرور د زمـانې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ګل مې د اوربل کړه چې وږمه شمه
خور په لر او بر کښې شم نغمه شمه

خوب شه راله راشه که یریږې نه
زۀ به درته تول لیمۀ لیمۀ شمه

تۀ چې راته سم په مینه اوګورې
بیا زۀ خبر نۀ شمه چې څۀ شمه

کله کله درشم د احساس په لار
خور دې په رخسار شمه خوله شمه

ورک شم د خیالونو په رنګونو کښې
کله چې ستا خیال ته په کاتۀ شمه

ما په شونډو راوله ,, لایق ،، مې کړه
پریږده چې ستي شمه لمبه شمه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

بښــهٔ درتــه کــتې شــمه کــتې نــهٔ شــم
ګلـــې لېـــونې يـــم لېـــونې نـــهٔ شـــم

ســـتا د تنـــدرين لمبـــه لمبـــه حســـن
ګرانـــې ســـپېلنې يـــم ســـپېلنې نـهٔ شـــم

څـــومره ده مجبـــوره لېـــونۍ مينـــه
ســتا پــه لــوز درتلې شــمه درتلې نـهٔ شـم

واړه اداګــــانې دې لتهـــون لتهـــون
ځان پکښې موندې شمه موندې نهٔ شم

زهٔ لايــق پــوهيږم نـــه چـــې دا ولـــې
ســتا نــه زاريــدې شـم زاريــدې نـهٔ شـم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

لا مـې لېونتوبـه خمـار كـم نـهٔ دے
لا راتـه جهـان صـنم صـنم نـهٔ دے

نـور مې لېونے كړه چې خوشـحاله شې
لا خـو پـوره شـوے دې ,,كـرم،، نـهٔ دے

بيـا دې زړهٔ لـه څـهٔ راغلـهٔ خفـه شـولې
لا خـو مـې زغملے زور ستم نـهٔ دے

پريـښوده چـې د زړهٔ خبـرې اولـيكم
لا پـه سـلګو شـوے مـې قلـم نـهٔ دے

مـا لايـق بـې تانـه د ژونـدون پـه لار
ايخـے د بـل چا پـه لـور قـدم نـهٔ دے



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

په رخسار به دې راخور شم که نقاب شم
په اوربل کښې به دې ځائے شم که ګلاب شم

لېونتوب دې هسې رنګه کانې اوکړې
اول سوال شمه په خپله بیا جواب شم

ستا د زلفو خیال مې لرې لرې یوسي
زۀ چې کله ناقراره اضطراب شم

دا معراج د پاکې مینې راله بس دے
لېونی چې لېونو کښې دې حساب شم

زۀ لایق تر ځانه رسم کله کله
ولې خپل ځان ته په خپله زۀ حجاب شم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



O

تـهٔ زمـا سـره پخـلا شـوې دريغـه دريغـه
په ربښتيا سره ,,زما ،، شوې دريغه دريغه

ګلې تـهٔ چې ئې وعـده هـره بيګـاه کـړې
پـه ربښـتيا هغـه صبا شوې دريغـه دريغـه

چـې حـالاتو د يـو بلـه تـار پـه تـار کـړل
يـاران جمـع سـره بيـا شـوې دريغـه دريغـه

د زړګي په تاريکو کښې مې خوره شوې
تـهٔ زمـا د ژونـد رڼـا شـوې دريغـه دريغـه

ستـا د حسـن پـه لمبـو کښـې لُولپـه شـوې
زهٔ لايـق ورکـه سـودا شـوې دريغـه دريغـه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ثنګه شم له تا صبر ګران دے ګلي دا صبر
ډير که مې زړۀ صبر کړو نۀ شو په رښتيا صبر

ستا نه صبر نۀ شومه نور شوم د هر چا صبر
هر صبا ستومانه وي سترے د بيګا صبر

دا به مې تر کومې وي بيا صبر او بيا صبر
ښۀ پښتو دې اوکړله تۀ چې شوې له ما صبر

زۀ لايق مجبوره يم
کړم به خامخا صبر



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

چرتــه زۀ درتــه یــادېږم او کــه نــه
پــه زړګــي دې راوریـــږم او کــه نــه

آئینــه کښــې لــږ پــه زیــر راتــه اوګــوره
چــې دې سترګو کښــې غږیــږم او کــه نــه

د هجــران پــه نــاقراره تــوره شــپه کښــې
درتــه ستــړورے ســپورے کیــږم او کــه نــه

ستا په زړۀ کښې خو به ډېر مخونه اوسي
چرتــه زۀ پکښــې ځــائیږم او کــه نــه

دا یــوه خبــره ســپینه راتــه اوکــړه
خپــل لایــق درتــه ښــکاریږم او کــه نــه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

لېونی پرېږده لېونی خبرې
یادوې خله پخوانی خبرې

پرېږده چې نن شو یو تر بله لوګې
صبا به کیږي صبانی خبرې

لکه د پېغې په زړګي مې لګي
ستا د ښائست او د ځوانی خبرې

اخر د وخت ګردونو هېرې کړلې
د ادم خان او درخانی خبرې

په وړه خوله مزه کوي لائقه
وړې وړې د نادانی خبرې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

نـۀ پـوهېږم لېونتوبـه دا بـه څـۀ شـي
چې يـوه لحظـه مې صبر د زړۀ نـۀ شـي

زۀ چې هـره نامـه اخلـم نـۀ پـوهېږم
چې د شونډو په سر راشي ستا نامه شي

نيمه شپه کښې تنهايي کښې غلے غلے
راشي راشي زما سترګو کښې اوده شي

بې لـه تـا نـه چې تيرېږي د زړۀ سـره
نـاقراره ورځې شپې بـه څنګـه ښـۀ شـي

چې په مخ ئې توري زلفې راخورې شي
رڼـا ورځ لايقـه شـپه شي تـوره شـپه شـي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

کـه هـر څـو پـه اور سـتي شـومه سـکارۀ شـوم
ولـــې بيـــا هـــم فنـــا نـــۀ شـــومه ښـــکاره شـــوم

چې د ,,حُسن،، په رنګونوکښې دې ورک شوم
تماشــه شــوم د خپــل ځــان پــه ننــداره شــوم

ســـتا خـــوږو کتلـــو هســـې کـــانې اوکـــړې
لېـــونۍ چـــې د خپـــل ځانـــه اواره شـــوم

زۀ د عشـــق منـــزل تـــه هلـــه ورنـــزدې شـــوم
چـــې لـــوخړه شـــوم لمبـــه د تنـــارۀ شـــوم

پــه خپــل ځــان کښــې مــې تــۀ اولیــدې لائقــه
زۀ چــې کلــه و خپــل ځــان تــه هنــداره شــوم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

په سلګو سلګو شو تېر کاروان د عمر
پوره نۀ شو چرې هم ارمان د عمر

تا يوه خبره اوکړه په شا لاړې
کړو په برخه دې زما خفګان د عمر

لکه زړۀ د برېوکۍ د غمه اوچوي
داسې تېر شو په تُندۍ دوران د عمر

په سلګو کښې مجبورۍ ته په خندا شوم
ما ادا کړو هسې رنګ تاوان د عمر

خلق اوس مې ليونے بولي لايقه
ما شلولے لاپخوا ګرېوان د عمر



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

اداګـــانې او نازونـــه يـــو پـــه دوه شـــو
بيـــا د حســـن قيامتونـــه يـــو پـــه دوه شـــو

چې مې د پره موده پس مخې ته راغلې
د زخمـــي زړهٔ پرهرونـــه يـــو پـــه دوه شـــو

,,آئينـه،، چې آئينـې تـه پـه خنـدا شـوه
زلزلـــې او طوفانونـــه يـــو پـــه دوه شـــو

مازيګر چې په اسمان لړې خورې شوې
ارمانونـــه حســـرتونه يـــو پـــه دوه شـــو

بيـا سـپرلے شـو پرهرونـو غـوټۍ اوکـړې
بيـــا لايقـــه تـــول غمونـــه يـــو پـــه دوه شـــو



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

دژوندون په هنګامو کښې ,,تنهائي،، راپسې ګرځي
تهمتونه راپسې دي رسوائي راپسې ګرځي

ما د هر ارمان په قبر دواړه لاس ورته جوړه کړۀ
خو بيا هم لکه د سپوري جدائي راپسې ګرځي

لېونے ووم لېونے يم لا به نور لېونے کيږم
لېونےٍ چې ستا يادونه لېوني راپسې ګرځي

د وختونو په لمبو کښې د حالاتو په زندان کښې
هر نظر په ما پسې د ے ,,خدائي،، راپسې ګرځي

زۀ د هجر توره شپه کښې د لايق په تکل ګرځم
وحشتونه ما پسې دي خاموشي راپسې ګرځي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

زۀ د ښکلو چم کښې د رسمونو په دار اوختم
اور شومه لمبه شوم د اورونو په دار اوختم

ملا د حسرتونو مې کچه ځوانۍ کښې ماته شوه
زۀ د سپرلي ګل د اوربلونو په دار اوختم

زۀ د سترې ژوند په هره سترې ناقراره شپه
ستا د انتظار د سحرونو په دار اوختم

تا د خلقو وړاندې چې په مينه راته اوکتل
شوم نظر نظر د نظرونو په دار اوختم

تا چې د حيا نه ښکته اوکتل مسکۍ شولې
زۀ دې په سپين مخ کښې د رنګونو په دار اوختم

روغو خلقو څۀ چې لېونو په کاڼو اوويشتم
زۀ لايق چې ستا د قسمونو په دار اوختم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

هر صبا مې زړۀ ته راغلې هر صبا دې زړۀ ته راغلم
تا که هر څومره پرده کړم ولې بيا دې زړۀ ته راغلم

نۀ پوهيږم که پوهيږم ګلې زۀ دومره پوهيږم
چې دې اوښکې په مخ راغلې خامخا دې زړۀ ته راغلم

لا غصه شه مۀ راګوره خو رښتيا خبره اوکړه
ولې شنه شوې د خندا نه چې بېګا دې زړۀ ته راغلم

تۀ چې داسې ساه نيولې د خپل ځان په تماشه شوې
آئينې درته څۀ اووے که رښتيا دې زړۀ ته راغلم

زۀ لايق د مينې نۀ يم دا منم خو دومره اوکړه
ماد تول عمر،، بندي،، کړه چې په غلا دې زړۀ ته راغلم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

سحرونه مې لوګې کړه ماښامونه مې لمبه کړه
ستا د ياد په هر يو ځلي ارمانونه مې لمبه کړه

چې بې صبره انتظار دې راته سترې په سلګو شو
په زړګي کښې پټ دننه طوفانونه مې لمبه کړه

په ديوال شه را اوچت تماشه د لرې اوکړه
دا په کلي کښې چې شور دے حسرتونه مې لمبه کړه

اوس به څۀ دې کړمه ياده اوس به څۀ درته اوګورم
هر خواهش مې کړلو خاورې اميدونه مې لمبه کړه

چې د وخت سره بدلې کړې د وخت يارانو سترګې
بيا لائيقه پښتو دا وه تېر يادونه مې لمبه کړه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

نـوره مـــې د زړۀ او د بيلتـــون خبـــره ګرانـــه شـــوه
ګرانـه شـوه اوس ډېـره د ژونـدون خبـره ګرانـه شـوه

رابــه شـــي وختونــه د فکرونـو کلــې ګـل بــه شـــي
چـا وئيـل پښـتون تــه د پـاڅون خبـره ګرانـه شـوه

راشــه ليـونۍ چـې مـې ارمـان درتـه ښـۀ اوګـوري
نـوره دې هـر مـخ کښـې د لټـون خبـره ګرانـه شـوه

سـتړي ارمانونـه سـتا راتلـو تـه ښـه نيـولي دي
دا د انتظـــار او ميړتـــون خبـــره ګرانـــه شـــوه

مـــا ورتـــه لايقـــه چـــې لاســـونه جـــوړه کـــړي وي
دا د منتونـــو زړۀ چـــاؤدون خبـــره ګرانـــه شـــوه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ستـرګې اشـنا وے خـو اشـنا دې نـهٔ کـړي
ډيرې وعدې وې خو ,,ربنتيا ،، دې نهٔ کړي

د سـتړي ژونـد دغـه زړهٔ سـتړې ورځـې
ګلـې زمـا وې خـو زمـا دې نـهٔ کـړي

چـې پـه ژړا شـوم درتـه چغـې مـې کـړي
اوښـکې مـې اوچې شوې پخلا دې نهٔ کړي

تـا چـې وئيلـي وو لاهيـر مـې نـهٔ دي
بـس خـو خبـرې وې صـفا دې نـهٔ کـړي

لايقـــه لاره کښـــې د پـــاکې مينـــې
کـومې سـجدې وې چـې ادا دې نـهٔ کـړي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

سترګې دې مۀ توروه سکور به مې کړي
لمبه لمبه به مې کړي اور به مې کړي

ذکر همځولو ته زما اونۀ کړې
لېونۍ شور به مې کړي خور به مې کړي

نۀ به یم تور همېش په تور د مینې
چرته د تورو سترګو تور به مې کړي

ما ته د خلقو مخکښې مۀ راګوره
ښتنه مینه ده پېغور به مې کړي

د زړګي وینې په ارمان لایقه
شیندم پوره به شي سمسور به مې کړي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یاد په څلي

## د کال ۱۹۸۷ء نه وړاندې

زۀ د ارمـــان پـــه ادیـــره کښــې لټـــووم ګلونـــه
د هـــر یـــو یـــاد پـــه څلـــي رو رو خـــوروم ګلونـــه

څو محرومیانې حسرتونه راغونډ کړي دي ما
ستا سپورو سڼو له ترې ناست یم جوړوم ګلونه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

لېونی تا به چې خندل په مخه
ما به دې سترګو ته کتل په مخه

بېګاه مې د ېره په زړګي وريدې
بس اسوېلي به مې کول په مخه

په زړه لاړو مسوده پس راغلمه
لوظونه ستا راياديدل په مخه

چې به زما نه مروره شولې
لکه ماشوم به مې ژړل په مخه

لايقه چا د زيارتونو کانې
په نرمو شونډو ښکلول په مخه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ډېر څه مې اووې د سلګو په ژبه
د يو څو سوؤ اسوېلو په ژبه

ستا د ښائست قيصه تمامه شوله
ما اوريده د برېښوکو په ژبه

زۀ پوهه نۀ شومه چې څۀ دې وئيل
نن د خوږو کتو په ژبه

د انتظار هره لحظه ازغنه
تل دلاسه شوه د ښکالو په ژبه

لايقه هسې مروره شوله
هر څۀ راځي د لېونو په ژبه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

نه مې کړې هېره نه پخلا لېونۍ
شومه د خلقو د خندا لېونۍ

چې ,,د ارمان ناوې،، مې قتل نه شي
په زړو لاړو راشه بيا لېونۍ

زه دې لا اوس هم د راتلو په طمعه
ستورې شمارمه تر صبا لېونۍ

ستا په لټون کښې د مودو نه ګرځم
سترګو ته ګورم د هر چا لېونۍ

هاغه لايق يم راته ښه اوګوره
ستا يمه ستا يمه زه ستا لېونۍ



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

تــول عمــر مــې اوژړل پــه تــا پســې
چــا ژړلــي دي دومــره پــه چــا پســې

تاتــه مــې يــو ځلــې څــۀ کتلــي دي
ګرځــي نظرونــه اوس پــه مــا پســې

تــۀ چــې د صــبا صــبا خبــرې کــړې
سترګې مــې ړندې شــوې پــه صبا پسې

چــا وئيــل خنــدا وي د ژړا نــه پــس
مــا خــو تــل ژړلــي دي ژړا پســې

دغــه لايــق شــوک د ے ورتــه اوګــوره
ګرځـي پـردي ښـار کښـې پـه اشـنا پسـې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

زړۀ مې نرے نرے خوېږي ولې
څوک بې وفا راته يادېږي ولې

نن آئينه رانه پوښتنې کوي
سترګې دې ډکې ډکې کېږي ولې

لېونۍ ما خو دا غوښتلې نۀ وه
وختونه بې لتا تيرېږي ولې

پښتنه مينه ده پوهېږمه نه
چې راته اوګورې شرمېږي ولې

لائقه پوهه ده وړه خو نۀ ده
بيا نۀ پوهېږم نۀ پوهېږي ولې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

لاس د مینې رالـه راکـړه بیـا بـه ځـې
دا زمـا ژونـدون زمـا کـړه بیـا بـه ځـې

ما په نیمه لار کښې داسې پاتې نکړې
ټول لوظونه دې رښتیا کړه بیا بـه ځـې

د هجـران پـه نـاقراره تـورو شـپو کښـې
د وصـال شـمعې رڼـا کـړه بیـا بـه ځـې

چې زما نه به اشنا صبریدے نهٔ شوې
نن مې هاغسې پخلا کړه بیا به ځې

پـه لایـق دې تـورې زلفـې راخـورې کـړه
سترګې ښکته د هر چا کړه بیا بـه ځـې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ستا ده جفا په جفاګانو پسې
زما ژړا په ژړاګانو پسې

ماته غصه دې چرې کمه نۀ شوه
بل ته خندا په خنداګانو پسې

زۀ وايم نن به په خوشحالي وينمه
ستا ده سزا په سزاګانو پسې

چې هر ساعت مې زوروي قتلوي
ستا ده ادا په اداګانو پسې

لايقه واړه په سلګو کښې اوسې
هره رازو په ارزوګانو پسې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

زړۀ مې لتا نه صبريد ے کله شي
روح د بدنه بيليد ے کله شي

هاغه خندا هاغه خوارۀ وختونه
ګلې زما نه هيريد ے کله شي

زما د زړۀ په درزيدو کښې اشنا
بې لتا بل څوک اوسيد ے کله شي

څوک چې زخمي شي په لمبو د حسن
په طبيبانو رغيد ے کله شي

لايقه هر ښکلي ته ګورمه زۀ
سترګې په چا مې خوږيد ے کله شي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

پټه پټه چې خندېږي لېونی
څنګه ما نه به هېرېږي لېونی

مازیګر چې نمر د غرونو پناه کېږي
بې اختیاره مې یادېږي لېونی

ځواني دغه وه چې ستانه مې قربان کړه
ته به کله زما کېږي لېونی

د پېر وختونه به تر مېنځه وي تېر شوي
چې د حاله مې خبرېږي لېونی

زهٔ لایق به هر ارمان درته لوګی کړم
خو که ته پرې خوشحالېږي لېونی



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

اور په تن مې بليدلې تا کتې
په سرو شونډو ژړېدلې تا کتې

ګريوان څيرې، ښکې تنها کې پريشانه
په کوڅو کښې زغليدلې تا کتې

ستا د مينې په خوږو باندې ماموره
اوږې تږې ګرځيدلې تا کتې

په اشنا کلي کښې دومره نا اشنا وې
هر يو کور ته اوډريدلې تا کتې

زۀ لايق د هاغه ورځې په ارمان يم
په لمبو کښې سوزيدلې تا کتې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ستړګې دې لمبه کړه زما ستړګو ته
مه ګوره اشنا د دنیا ستړګو ته

زار د هاغه پېغلې د پړونې شم
تېر چې کړي ټول عمر د چا ستړګو ته

ما ته لېونۍ د صبر مه وايه
ما نه ده ښودلې خندا ستړګو ته

خبر دے که رندې شي پروا نه لرم
دا ستړګې به ستړګې وي ستا ستړګو ته

زړه چې د مئينو په لمبو سوزي
وي لايقه ټوله ګناه ستړګو ته



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

چرتــه زۀ چرتــه خنــدا توبــه توبــه
چرتــه تــۀ چرتــه وفــا توبــه توبــه

پــه دنيــا ئــې تصــور كــولے نــۀ شــم
لاجنــت ســتا نــه جــدا توبــه توبــه

دغه سر دے چې مې تاته ښكته كړے
دا پــه در كښــې د بــل چــا توبــه توبــه

بس قيامت وي د زړګي كلي ته راشي
هــر يــو يــاد د خــوږ اشــنا توبــه توبــه

لايــق ســتا پــه ذكــر تــل قــرار مونــدلے
پــه دې خولــه بلــه وېنــا توبــه توبــه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

دا چې په ژبه د هر چا قيصه ده
دغه نيمګړې شان زما قيصه ده

چې په وئيلو مې تمامه نۀ کړه
ځومره خوږه د بې وفا قيصه ده

د چا يادونه دي او زۀ ملګرو
زما د سترې عمر دا قيصه ده

چې مې ارمان پکښې قرار لټوي
هغه قيصه مې د اشنا قيصه ده

لايقه مۀ غواړه وفا د ښکلو
دا له ازله نيمه خوا قيصه ده



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

څو نيمګړي حسرتونه دي او زهٔ يم
دروغجنې ستا لوظونه دي او زهٔ يم

د فراق په ناقراره توره شپه کښې
تنهائي ده ستا يادونه دي او زهٔ يم

د خپل سترې ژوندون څهٔ به درته وايم
ناتمامه ارمانونه دي او زهٔ يم

د ټول کلي نظرونه راپسې دي
تهمتونه پېغورونه دي او زهٔ يم

د دروغو تسليانې دي لايقه
رباعيانې غزلونه دي او زهٔ يم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

مـۀ راځـه خيـالونو کښـې مـې مـۀ راځـه
نـوره پـه فکرونـو کښـې مـې مـۀ راځـه

داسـې نــه رسـوا شـې زۀ يريږمـه
ګلـې پـه خوبونـو کښـې مـې مـۀ راځـه

دلتــه پابنـدي ده پـه سـوچونو هـم
خياله په شعرونو کښـې مـې مۀ راځه

لارې چــې رواج درتــه نيــولې دي
مۀ راځه سوچونو کښـې مې مۀ راځه

زۀ لايـق دې نـوم اخسـتې نـۀ شـمه
ګرانـې فريـادونو کښـې مـې مـۀ راځـه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

وخته د اشنا حالونه اووایه
ماته نا اشنا حالونه اووایه

ځه د سحر باده چې ایسار نۀ شې
ګلې ته زما حالونه اووایه

دا چې نۀ صبرېږم نۀ رغېږمه
ټول ورته رښتیا حالونه اووایه

ښکل ئې دواړه شونډې انارونه کړه
بیا ورته د ,,بیا،، حالونه اووایه

زلفې په سپین مخ چې ئې خورې نۀ کړې
شپو ته د صبا حالونه اووایه

ګوره که ئې یاد شمه په هیره کښې
تۀ ورته د ,,چا،، حالونه اووایه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

چــې دې وینمــه درزیــږي زمــا زړۀ
چــې دې نــۀ ونــیم نړیــږي زمــا زړۀ

لیونے دے رانه نور څۀ نور څۀ غـواړي
پــه ښــودنو نــۀ پــوهیږي زمــا زړۀ

کـه هـر څـومره قسـمونه ورلـه ورکـړم
ګلـې ستـا نـه نـۀ صـبریږي زمـا زړۀ

ځواني تولـه مې په ,,طمع،، شـوله تیـره
د هجــران پــه اور ســوزیږي زمــا زړۀ

زمــا زړۀ جــوړې زمــا نــۀ دے لایقــه
پـه غـټ سترګې چـې نـازیږي زمـا زړۀ



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

زلفې دې په مخ خورې ورې لګي
ګرانې راته دغه ورځې شپې لګي

بیا ئې جوړ رقیب سره خندلي دي
بیا مې په زړګي اورې اورې لګي

خدائے خبر چې ولې د ژوندون په لار
ځان راته بې څوکه بې اسرې لګي

ستا د مخ رنګونه قیامتونه کړي
ځکه دې په ما خوږې خیرې لګي

زړۀ ته مې لایقه بیا راغلې ده
بیا راته ماحول مصرعې مصرعې لګي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



O

ستا چې اوربل په وروځو خور اولګي
زمـــا د زړۀ پـــه دنيـــا اور اولګـــي

هـر چـا تـه خاندي خـو لمبـه هلـه شـي
چـې ئـې نظـر زمـا پـه لـور اولګـي

تـۀ دې زمـا پـه نـوم بدنامـه نـۀ شـې
په ما دې ستا د مينې ,,تور،، اولګي

لېـــونى زۀ دې هيـــرولے نـــۀ شـــم
سـر پـه تختـه کـه مـې د ګـور اولګـي

لائقـه نـۀ پرېـږدي چـې مـونږ مينـې تـه
تـور دې پـه دغـه خلقـو نـور اولګـي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

بې له تانه که دنیا وي دنیا مهٔ شه
بیله ستا که مې خندا وي خندا مهٔ شه

چې دیدن د دوه مئینو په کښې کیږي
هاغه شپې له که صبا وي صبا مهٔ شه

چې ډیوې په کښې د مینې بلې نهٔ شي
تور لحد که مې رڼا وي رڼا مهٔ شه

چې خوشبو ورکښې د یار د زلفو نهٔ وي
د ګلونو که ښکلا وي ښکلا مهٔ شه

بې له یاره چې تیریږي مې لایقه
هاغه عمر که سپوا وي سپوا مهٔ شه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

پرېږده پرېږده چې ژړېږم پروا نشته
ستا په عشق کښې دې سوزېږم پروا نشته

چې نامه راسره ستا وي خفه نۀ يم
چم په چم دې رسوا کېږم پروا نشته

ستا په شونډو دې نرۍ مسکا خوره وي
زۀ دې ژاړم نۀ صبرېږم پروا نشته

ستا د حسن په وطن کښې دې سپرلے وي
زۀ دې مړاوے ګل رژېږم پروا نشته

چا تپوس مې د حال اونکړو لايقه
ځان له سوزم لمبه کېږم پروا نشته



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

دروغجنې ستا په څۀ رانه ګيله ده
دا ستم جبر ده کوم ګناه صله ده

خير د ے تۀ په جفا ګانو تينګه اوسه
زۀ پښتون يم زما لويه حوصله ده

بې له تا نه د بل چا مخ ته نۀ ګورم
ګلې دا مې د ټول عمر فيصله ده

د يادونو سره خاندم کله ژاړم
د يار غمه څومره ښکلې مشغله ده

زۀ لايق د ويرې غر کولے نۀ شم
هر نظر ئې يوه نوې زلزله ده



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

په زړۀ دې څـۀ دي ښـۀ پوهیږمـه زۀ
ځکـه چې زړۀ کښـې دې اوسیږمه زۀ

پـه کومـه ورځـې چې دې اونـۀ ویـنم
پـه اور سـوزیږم لمبـه کیږمـه زۀ

ښـۀ راتـه اوګوره چې سـود مې اوشـي
د مـودو تـږے نـۀ مړیږمـه زۀ

دا مـې وعـده ده د پښـتو لپـونۍ
تانـه بـه ټـول عمـر زاریږمـه زۀ

په ،،غټو سترګو،، چې خوړنه کوي
لایقـه څنګـه بـه رغیږمـه زۀ



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

تــا جــوړې ګرانــې کــړې زمــا خبــرې
کـــوې اشـــنا چـــې نااشـــنا خبـــرې

مالـــه ئـــې څـــۀ تـــا لـــه ئـــې درکـــړې
پریـــږده جانانـــه د دنیـــا خبـــرې

اور مـــې بلیـــږي پـــه زړګـــي لیـــونۍ
تـــۀ چـــې کـــړې ماتـــه د بـــل چـــا خبـــرې

زۀ بـــه د ژونـــد پـــه خـــوږو پوهـــه شـــمه
تـــا کـــه ایـــزده کـــړې د وفـــا خبـــرې

لایقـــه څـــو بـــه مینـــه پټـــه ســـاتې
لاړې وختونـــو کـــړې رســـوا خبـــرې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

چې ډيوې پکښې د مينې رڼا نۀ شي
هغه شپه دې تر قيامته صبا نۀ شي

رسوائي د محبت اصل معراج دے
څۀ وي مينه چې په چم کښې رسوا نۀ شي

بس يو تاته زما سترګې ښکته کيږي
بې له تا دا سجده بل ته روا نۀ شي

که هر څومره ښکلي ډير دي په دنيا کښې
تسلي مې په بل مخ د دنيا نۀ شي

لائق ستا په سوچ او فکر کښې اوسيږم
بې له دې دې زما بله سودا نۀ شي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ستا د زلفانو هر يو ول لټووم
دلته زړګي دلته ګوګل لټووم

د ژوند په لاره د يارانو پاتي
تشو خاپونو کښي منزل لټووم

هر چا حلال کړم په چاړهٔ د خلوص
بيا هم ياران لټووم خپل لټووم

چي مي د ژوند په فلسفو پوهه کړي
څوک رهنما لټووم مل لټووم

لايقه ګورم چي په زيرګلي ته
زهٔ ئي په سترګو کښي غزل لټووم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

راغلـه مـې زړګـي تـه مېلمنـه شـوله
مينـــه پښـــتنه وه پښـــتنه شـــوله

لاړه د زړۀ تــل تــه پــه مــزه مــزه
اوښــکه د ارمــان څــومره درنــه شــوله

راغلـه مې تر څنګـه پښـه نيـولې شـوه
خـدائے خبـر چـې ولـې پـه ستنه شـوله

ګرانــې د دنيــا نــورې اســانې شــوې
ګرانــه لېــونۍ شــوه زمــا نـۀ شــوله

حســن چــې لايقــه بــې پــردې شــولو
مينــه بـــې عنوانـــه افســـانه شـــوله



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

چې زۀ ښکلي چرته وينم ستا لوظونه مې راياد شي
خپله مينه شي رايادہ ستا ظلمونه مې راياد شي

مخامخ چې کله راشي نو غمونه کډې اوکړي
خو چې کله شم يواځې چنارونه مې راياد شي

هره ورځ چې مازيګر شي د شفق لمنې سرې شي
د ځوانۍ فکر مې يوسي تېر وختونه مې راياد شي

تۀ چې وائې سپرلے راشي زۀ به هم کخيري راشم
ستا په طمعه ډېر تېر شوي بهارونه مې راياد شي

ستا خالونو ته چې ګورم عجيبه فکر مې يوسي
د احساس په هره ساه کښې پرهرونه مې راياد شي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

زۀ لېـــونے يمـــه دنيـــا بـــه څـــۀ کـــړم
ښـکلي بـه څـۀ کړمـه وفـا بـه څـۀ کړم

چـــې دې زمـــا اشـــنا زمـــا نـــۀ کړلـــو
خوار شي نصيبه نور پـه تا بـه څۀ کړم

زۀ د مــــودو نــــه د ژړلــــو عــــادت
دغسـېٓ خـوښ يمـه خنـدا بـه څـۀ کـړم

چـې مـې تـول عمـر پـه لمبـو سـوزوي
داسې ښائست داسې ښکلا به څۀ کړم

چـې ئـې اشـنا سـترګې بـدلې کړلـې
لايقـه داسـې رنـګ اشـنا بـه څـۀ کـړم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

چې کله کله ستا تصوير ته خاندم
دا لکه ګلې خپل تقدير ته خاندم

چې مو تر مينځه لکه غر ولاړ دے
دغه پښتون بېدار ضمير ته خاندم

څه مې غوختل او شوله څه راپيښه
چې شم يوائې خپل تدبير ته خاندم

ستا د نامې په تذکرو ماموره
د ليوني زړګي جاګير ته خاندم

چې مې لايق د خپلې مينې ګنې
د ناقراره خوب تعبير ته خاندم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ازادو نظمونو برخه

# چنارونه

دومره غرور دې په ځوانۍ مه کوه
ځکه چې تندر په ,,چنار،، پریوځي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوښکه

که هر څومره دې پر دے کړم
تا پښتو خپله پوره کړه
ولې هر ماښام چې راغے
زۀ شوم اوښکه ناقراره
ستا د زړۀ د لورې راغلم
په بڼو کښې دې بانړه شوم
په رخسار باندې دې خور شوم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تصویر

تهٔ که د ېره لرې لاړې
مرادونه دې پوره شول
زهٔ دې پرېښودم يواځې
په تېرهٔ چاړهٔ د صبر
هر ارمان حلاله وومه
خو بيا هم چې کله کله
زهٔ يواځې چرته کېنم
ستا تصوير مخې ته کېږدم
په ورو ورو سلګو کښې
ناقراره اسوېلو کښې
ورته د ېرې ګيلې اوکړم
,, تصوير،، غلے غلے خاندي
څهٔ خبره کول غواړي
ولې هېڅ وئيلے نهٔ شي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توبه

هره ورځې قسم اوخورم
ستا د مینې نه توبه کړم
معصوم زړۀ په منتونو
غلے غلے دلاسه کړم
خو چې سترے مازیګر شي
د ماښام ناوې ودېږي
ستا خوارۀ خوارۀ یادونه
مې د زړۀ نه راچاپېر شي
په سکنې سکنې ماښام کښې
د هر چا نه لرې لاړ شم
د خورو اوبو په غاړه
د ,,چنار،، د ونې لاندې
یک تنها سلګو نیولے
ګلې سر په زنګون کېږدم
تر سحره پورې ژاړم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوب

زهٔ پوهیږم زما مینې
تهٔ به هم داسې سوزیږې
لکه زهٔ چې مودې اوشوې
لمبه کیږم ایره کیږ
تهٔ به هم زما په لورې
راتلهٔ غواړې کاتهٔ غواړې
خو مونږ دواړه یُو مجبوره
ستا رواج لاره نیولې
زهٔ ,, پښتو ،، سره په جنګ یم
ته نن ماتې زولنې کړه
رواجونه تار په تار کړه
زهٔ به خپله پښتو پریږدم
ته په تورو تورو شپو کښې
د هر چا نه پټه پټه
راله غلے غلے راشه
زهٔ به ځان درته لېمهٔ کړم
تهٔ د سترې خوب په شانتې
په لېمو کښې مې اودهٔ شه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خبره

کله کله تنهایي کښېني
د احساس کلي ته راشي
راته اوګورې مسکې شي
درته سم کتلې نشم
راته سم کتلې نهٔ شي
څهٔ خبره کول غواړې
څهٔ خبره کول غواړم
ولې هيڅ وئيلې نهٔ شو
ښهٔ پوهیږې چې دا ولې
ښهٔ پوهیږم چې دا ولې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رنګونه

د سحر يخو بادونو
ډلې ډلې ورله ورشئ
په سپين مخ ئې تورې زلفې
په مزه مزه خورې کړئ
په بدن ئې خوشبويانې
د سحر خورې ورې کړئ
بيا ئې دواړه شونډې ښکل کړئ
خو چې ويښه درنه نۀ شي
لا به خوب ئې پوره نۀ وي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا به ستړے وي تر اوسه
تاسو غوږ کېښې ورته رو رو
د مئين خبره اوکړئ
دا به خوب کېښې په خندا شي
تاسو ټول ترې غلي غلي
د خندا رنګونه پټ کړئ
بيا زمونږ کلي ته راشئ
دا رنګونه هره خوا کېښې
د خوشبو غوندې خوارۀ کړئ
چې زمونږه لېونتوب هم
د قرار خبرې زده کړي
په سکون چرته اودۀ شي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارمان

تهٔ چې وائې ما کړه هيره
زما هم دغه ارمان دے
چې د زړهٔ د سر د پاسه
زهٔ د صبر تيګه کيږدم
لکه زهٔ چې درنه هير يم
داسې تهٔ شې رانه هيره
خو زما ليونۍ مينې
تا جوړ نهٔ دي اوريدلي
,, ځان ،، د ځانه نهٔ هيريږي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قاتله

راته وائي ما معاف کړه
ښهٔ خبر ده ښهٔ پوهیږي
چې قاتله ده د میني
ده قاتله د جذباتو
ارمانونو احساساتو
د فکرونو تخلیقاتو
چې د دومره ستمونو
باوجود معافي غواړي
داسې ښکاري زما مینه
بیا زما د مجبورۍ نه
امتحان د صبر اخلي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وران کنډر

تۀ زما نه مینه غواړې
خو ددې نه خبر نۀ ئې
چې زما سره زړۀ نشته
یو ویرانه شان کنډر دے
پکښې سترې ارمانونه
زوریدلي حسرتونه
بې وسیانې محرومیانې
یو تر بله غاړه وتې
د مودو راسې اودۀ دي
دلته مینه مینه نشته
ورشه داسې چاله ورشه
چې ئې زړۀ وي په سینه کښې
لا د مینې خبر نۀ وي
لائې غم لیدلے نۀ وي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوال

ما په ډېرو مرادونو
د ,,بابا ،، لمن نیولې
خپې تناکې ګرېوان څیرې
اوچې شونډې ترارې ترارې
په غلبیل غلبیل سینه کښې
ارمانونه مې راوړي
د معصوم زړګي په کور کښې
حسرتونه مې ساتلي
د کلونو انتظار مې
بې وسۍ سره مسکې شو
چې زما ,,لېونۍ ،، مینه
د بابا لمن ته راغله
ما ئې غلې ننداره کړه
په سپین مخ ئې تورې زلفې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګېدلې خوریدې
یو ساعت غلې ولاړه
پټې سترګې فکر وړې
بیا ئې سرې منګلې دواړه
د ,,بابا ،، په سینه کېښوې
شوه راټيټه په ژړا شوه
بیا ئې هر یو مهین کاڼے
ډېر په مینه مینه ښکل کړو
بیا په مخ ئې رنې اوښکې
شوې کړې وړې رواني
لاس ئې پورته کړل دعا ته
زما زړهٔ په درزیدو شو
دعاګانې مې غوختلې
چې زما عظیمه خدایه
یا مې سوال د ,,لېونی ،، کړه
یا مې کاڼے د ,,بابا ،، کړه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې غمه

هره ورځ چې مازيګر شي
د اسمان په مخ سرخيانې
د شفق خورې ورې شي
زۀ د ,, کلي ، نمر خاتۀ ته
د ,,چنار ،، د ونې لاندې
يم ولاړ په وروستو ګورم
څو ازغي ازغي فکرونه
څو درانۀ درانۀ غمونه
څو يادونه قيامتونه
راته سيورې سيورې کيږي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بې وسه زړګي کور کښې
طوفانونه زلزلې وي
کله اوښکې ناقراره
مې په زړۀ کښې لمبې کېږي
خو چې کله مازيګر هم
تورو شپو له غاړې ورکړي
زۀ کړم چغې په ژړا شم
کائنات راسره ژاړي
خو چې مونږ چا پسې ژاړو
هغه سمه تر ماښامه
په بې غمه خوب اوده وي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خيال

د شينكو غرونو لمن كښې
د ,, چنار،، د ونې لاندې
د خورو اوبو په غاړه
پېغلې جونه دي ولاړې
څوک يو بل په اوبو اولي
تكې شنې دي د خندا نه
څوک د حسن په كتاب كښې
د ژوندون فالونه ګوري
كله كله سيلۍ راشي
اوربلونه تيل ماتيل كړي
سرې او شنې لوپټې تولې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو تر بل الول شي
د اسان په مخ وریځې
د رنګونو تماشې کړي
ولې ,,تئ ،، د پېغلو لرې
د اوبو په غاړه ناسته
په فکرونو کښې ئې ورکه
کله اوګورې اسمان ته
کله غرونو ته کتل کړې
بیا په مخ دې یو څو اوښکې
د زړګي د لورې راشي
سترې سترې شان راپاسې
په اوبو کښتې یو څو کاڼي
په یو بل پسې ګذار کړې
جوړې ماته کتے نۀ شې
زما ,,خیال ،، په کاڼو اولې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کورکي

ماته یاد دي لاتر اوسه
هاغه تېر خوارۀ وختونه
چې په تکنه غرمه کښې
به کوڅې زمونږ د کلي
هسې رنګه وې خاموشه
لکه ژوند وي کډه کړے
ددې کلي چرته لرې؛
مونږ به د غه خاموشۍ کښې
د ,,چنار ،، د ونې لاندې
د سړې چینې په غاړه
د یو بل په خوا کښې ناست وو
ما به کله کله شګې
د اوبو نه کړې راغونډې
کورکي به مې ترې جوړ کړل
ته به شنه شوې د خندا نه
زۀ به ستا په تماشه ووم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په سترګو کښې به ورک شوم
تۀ زما سترګو کښې ورکه
په دې هر يو ورک نظر کښې
بې حسابه وو رازونه
چې پرې تۀ ښه پوهيدلې
چې پرې زۀ ښۀ پوهيدلم
يوه ورځې ښۀ مې ياد دي
چې زۀ ستا په انتظار ووم
پښه نيولے غوندې راغلې
ستا په سترګو کښې وې اوښکې
ستا د مخ رنګونه نور وو
چې کتل دې شاته شاته
زما زياته تلوسه شوه
نو تپوس مې درنه اوکړو
تا کړې چغې په ژړا شوې
څۀ خبره دې اونۀ کړه
راته ډېره نزدې راغلې
په وجود دې زلزله وه
زۀ دې ښکل کړم په څو واره



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا په منډه شوې روانه
پښه نیولې پښه نیولې
زۀ اتاله شومه پاتې
د سوچونو سېلاب یوړم
داسې ډېر کالونه تېر شو
زۀ اوس هم په طمع طمع
تل په ټکنه غرمه کښې
د ,,چنار ،، د ونې لاندې
د ارمان څلي ته ناست یم
رنې اوښکې تویوومه
خورې شکې تولوومه
کورکي ترې جوړوومه
تېر وختونه یادوومه
وایم کله خو به راشې
کورکي به ,,کورکي ،، کړې
ولې ستا نه جوړې هیر دي
چې څوک داسې لېونے شته
چې په صبر نۀ پوهیږي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو

ته د همزولو سره ناسته د خندا نه شنه ئې
څوک دې په زلفو بې اختیاره اوشیندي ګلونه
تهٔ د حیا نه تکه سره شې خو څهٔ غږ نهٔ کوې
په سپین رخسار دې الول شي الواني رنګونه
زما نامه دې خولې ته راشي اخستل ئې غواړې
ولې ,,پښتو،، دې په احساس اولګوي چکونه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځان

اور ووم لمبه شوم
زۀ څۀ ووم څۀ شوم
د ځانه ورک یم
تکل تکل یم
ستړے منزل یم
نیمګړے سوال یم
خپله منزل یم
ځان پسې ګرځم
چې کله رسم
او نه رسیږم
بنۀ لرې لاړ شم
لاړ شم فنا شم
ورک شم د ځانه
لکه چې ورک یم



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بیلتون

توره شپه ده تنهائي ده
زۀ په دغه تنهايۍ کښې
د درياب په غاړه ناست يم
د اسمان په مخ وريځې
ګورې ګورې راخورې دي
کله اخوا کله دېخوا
شي اوښان اوښان رواني
سپوږمۍ اوخاندي ښکاره شي
په چپو چپو اوبو کښې
د خپل حسن تماشې کړي
په درياب کښې غورزنګونه
غورزنګونه طوفانونه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د ځان سره لاهو کړې
زۀ لاهو شمه فنا شم
په دې شور او هنګامو کښې
ناګهانه رابنکاره شې
راله غلې غلې راشې
په خندا شې بنکته ګورې
زۀ هم بنکته بنکته ګورم
څۀ خبره کول غواړې
څۀ خبره کول غواړم
مونږه دواړه لا يو بل ته
حال د زړۀ وئيلے نۀ وي
چې اوبو کښې سيلاب راشي
تا زمانه چرته لرې
ما د تا نه چرته لرې
د ,,بيلتون ،، کلي ته يوسي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تابوت

چې زما د ارمانونو
د بې کوره حسرتونو
د خورو ورو خيالونو
د نيمګړو اميدونو
ټول سامان د مرګ تيار شو
د رنګونو په تابوت کښې
قط په قط پاندې خوندې شو
نو بيا دغه قاتلانو
سنګدلانو ظالمانو
ماته اووے نزدې راشه
تماشه د تابوت اوکړه
چې د قتل دا سامان دې
په څۀ کم دے چې پوره شي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اقرار

هاغه شپه به هیره نۀ کړم
چې د ستورو په ځلا کښې
د سپوږمۍ تته رڼا کښې
وے زما په خوا کښې ناسته
ما قیصه درته کوله
د خپل ژوند د محرومیانو
د بې وسه مجبوریانو
چې خبره ستا د هجر
دې قیصه کښې کله راغله
یو څو اوښکې ناقراره
مې لېمو کښې الول شوې
د وجود هره ذره مې
نوره هم ذره ذره شوه
لېوني زړۀ راته اووے



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن ئې سر په پښو کښې کېږده
ښه په چغو په ژړا شه
چې د هر څۀ نه خبر شي
ولې ,, عقل ،، راته اووے
پام کوه چې چغې نۀ کړې
ګني مينه به رسوا کړې
تا زما دا قيصه ټوله
ډېر په غور اوريدله
په سوچونو کښې وې ورکه
تا کتل پورته اسمان ته
ستا په سترګو کښې هم اوښکې
ملغلرې ښکاريدلې
ستا هم زړۀ وو راډک شوے
ولې مينه پښتنه وه
تا ,, اقرار ،، کولے نۀ شو
ما ,, اظهار ،، کولے نۀ شو



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# موسم

تر پرونه چې به کله
د اسمان په مخ وریځې
ګورې ګورې رایو ځائے شوې
زما زړۀ کښې به دننه
مستئ واچول تالونه
هر ارمان به مې نغمه شو
سندریزه حسرتونه
ولې نن چې کله کله
د اسمان په مخ وریځې
ګورې ګورې رایو ځائے شي
زما زړۀ کښې شي راپورته
ارمانونه تندرونه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښائستونه راته ښکاري
بلاګاني وحشتونه
شي په مخ مې را رواني
رنې اوښکې قطارونه
بې اختياره مې رایاد شي
تېر وختونه قيامتونه
په زړګي مې راخوارۀ شي
د فکرونو چنارونه
ځان له غلې غلې ژاړم
چاته نۀ وايم حالونه
زۀ يريږمه په زړۀ کښې
چې د ے نوم زما په شونډو
په ژړلو کښې رانۀ شي
چې دې مينه رسوا نۀ شي
چې مې مينه رسوا نۀ شي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مور په څلي

زړۀ مې هاغه ورځې غواړي
چې ورکوټے ووم ماشوم ووم
د هر غم نه ناخبره
به دې غېږه کښې اوده ووم
چې به کله په ژړا شوم
تا به زۀ قلاروَلم
مابه لاس درنه چاپېر کړۀ
تا به مورې ښکلؤلم
چې به شين شوم د خندا نه
تا به غېږ کښې لوبولم
چې به کله ووم ناروغه
ستا په مخ به رنې اوښکې
بې اختياره بهيدلې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله شپه به دې شوګیر کړه
ته به نۀ اودۀ کیدلې
چې زبېرګے به مې کولو
تا سینې ته به راجوخت کړم
تر هغې به وار خطا وې
چې تر څو به زما سترګې
مورې نۀ وې غړیدلې
بیا چې کله مې خړپوسې
په مزه مزه ایزده کړې
تۀ به ناسته راته خوا کښې
په خندا نۀ مړیدلې
هر ماښام به دې راټولې
کړې د چم محلت خزلې
دا به ماته دې لوګے کړې
د ,, نظره ،، یریدلې
بیا چې کله زما مورې
ما اول قدم کړو پورته
ته په کور کښې ګرمه ګرمه
اخوا د ېخوا ګرځیدلې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تول کلي چم محلت کښې
شیرنیانې دې ویشلې
چې په ماتو قدمونو
به ستا غیږې ته راتللم
تۀ به زړۀ کښې پټه پټه
ځان له من من غټیدلې ؛
بیا مې ژبه پرانستله
ما خبرې زده کولې
په خو وارې به دې ښکل کړم
چې په تته تته ژبه
ما به ځان ته رابللې
خو چې کله زما مورې
زۀ ایله د ګرځېدو شوم
د خپل کور د دروازې نه
لا بهر وتلے نۀ ووم
چې زما د مینې کور کښې
د ہر بې وخته طوفان راغے
زۀ په چغو چغو راغلم
ما وئیلې زما مورې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې تا جواب رانکړو
بس سينې ته دې راجوخت کړم
اخري ځلې د ښکل کړم
بيا تۀ ډېره لرې لاړې
زۀ دې پرېښودم يواځې
زۀ ,, يواځې ،، هم رالوے شوم
خو په اور او په لمبو کښې
اوس زلمے يم ګرانې مورې
نن دې ځلې ته ولاړ يم
خلق ماته ,, لايق ،، وائي
په دوه کسو کښې يادېږم
خو بې تانه خپلې مورې
دا ژوندون نيمګړے ښکاري
دا ژوندون نيمګړے ښکاري



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منت

ستا په ښائست مې قسم
ستا په حيا مې سوګند
ډېر مې زړۀ صبر کړلو
خو چرته صبر نۀ شو
چې سترګې پټې کړمه
تۀ راته وړاندې راشې
ډېرې خبرې اوکړې
ډېرې خبرې اوکړم
د خپلې مينې په نوم
دغه منت اومنه
ما نه خفه چې نۀ شې
زۀ د ژوندون په لاره
ګلې يواځې يمه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښۀ دې اوکړل

خپل خوارۀ وارۀ فکرونه
خپل ذره ذره وجود مې
خپل لمبه لمبه احساس مې
ستا د مينې په لمن کښې
په مزه مزه راټول کړو
زۀ د خپل ځان نه خبر شوم
د مودو نه سترے عمر
راته خوږ غوندې ښکاره شو
اوس چې تا کړه لاره بدله
ښۀ دې اوکړۀ د زړۀ سره
ستا د مينې لېونے به
يو ځل بيا ذره ذره شي



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارمان

تا نن ډېر په بې فکرۍ کښې
دا خبره ماته اوکړه
چې تا ,, درد ،، لیدلے نۀ دے
تۀ د مینې خبر نۀ یې
زما هم دغه ,, ارمان ،، دے
چې د مینې په لمبو کښې
سوزیدلے چرته نۀ وے
کاش ما درد لیدلے نۀ وے
کاش ستا خیال ته ,, تنهایۍ ،، کښې
ژړیدلے چرته نۀ وے
صبر شوے وے له تانه
ناقراره دومره نۀ وے
لکه تۀ چې یې بې غمه



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې زۀ هم بې پروا وے
خو زۀ څۀ اوکړم مجبور يم
نۀ د تا نه صبريدے شم
نۀ زۀ ستا په لور درتلے شم
نۀ نامه دې اخستے شم
نۀ په چغو ژړيدے شم
ځکه ستا عزت د ېر ګران دے
ماته ګلې د خپل ځانه
چېه خوله په سرو لمبو کښې
مودې اوشوې لمبه کيږم
سترګې پټې کړم يواځې
ستا خيالونو ته خنديږم
که هر څو صبريدل غواړم
زۀ د تانه نۀ صبريږم
تر سحره پورې ناست يم
زۀ په خپل نصيب ژړيږم
ددې هر څۀ باوجود چې
تا نن داسې راته اووے
چې د ,, مينې ،، خبر نۀ ئې



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو نور هېڅ وئيلے نۀ شم
که راتلے مرګ بې اجله
دا خبره دې پوره وه
زۀ به مړ ووم د زړۀ سره
خو يقين به دې وو شوے
چې زما لېونى مينه
مرګے هم نۀ وژلے



www.pukhto.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځان

ناقراره غوندې خيال ووم
له مودو ذره ذره ووم
تا په ډېره پاکه مينه
مقدسو احساساتو
زۀ راغونډ کړمه يو ځائے ته
لکه بُت دې مکمل کړم
زۀ په ژوند کښې په ورمبي ځل
شوم خبر له خپله ځانه
ناقراره سترے عمر
راته خوږ شو راته ګران شو
ستا د خيال په رنګينو کښې
زۀ د خپله ځانه ورک شوم
چې ستا نوم به زما خولې له
تنهايۍ کښې کله راغلو
رڼې اوښکې د خلوص به
مې په مخ لړۍ لړۍ شوې
زۀ به څومره ووم خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ دا سوچ کولے نهٔ شې
خو غماز چې مېنځ ته راغے
ستا خلوص ئې ریز مریز کړو
تهٔ شوې دومره مروره
چې دې زهٔ ټوټې ټوټې کړم
د خپل ځان دا خورې پاڼې
چې مې څومره جوړولې
دومره نور هم ورانیدلم
بیا په زړهٔ مې تیره کیښوه
د خپل ځان دغه ټوټې مې
په سور اور لمبه لمبه کړې
اخر دا چې زهٔ ایره شوم
بیا د وخت یادونه راغلهٔ
زهٔ ئې واخستم په مخه
د مشرق نه تر مغربه
د شمال نه تر جنوبه
زهٔ ذره ذره شوم خور شوم
د وجود خورې ذرې مې
اوس په یو بل پسې ژاړي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**